AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر تاج الدین ملت مل

۲۰۱۸/۱۱/۰۶

# اې خدایه!
# مونږ افغانان او نور صحیح مسلمانان کړې!

مونږ افغانان او نور مسلمانان چې یو شمیر زیات اعمال د اسلام په نوم او د ثواب په غرض کوو، هغه د اسلام مخالف او ممکن زمونږ د عذاب سبب هم شی. د اسلام مقدس دین واقعاً تر ټولو ادیانو کامل او په هر اړخیزه توګه د انسانانو په ګټه او د خیر دین دی. خو په خواشینې سره نه دا دین سم پیژندل شوی او نه هم مسلمانانو او نورو انسانانو ته په صحیح او سمه توګه ورپیژندل شوی دی. پدی برخه کی د مسلمانانو غفلت او په خاصه توګه د اسلامې علماوو بی کفایتي د جدی نیوکو وړ دي. د نړی په مسلمانانو کې بیا مونږ افغانان په خاصه توګه تر بل هر چا زیات په اسلام ناپوهه او تر ټولو زیات افراطې مسلمانان یو. زمونږ یو شمیر زیات کړنې چې مونږ یی عبادت او حتا جنت ته دتللو وسیله بولو، په واقیعیت کې هماغه کارونه د اسلام له نظره ګناه او ممکن زمونږ د عذاب سبب شی. د دی لپاره چې د خپل هیوادوالو او نور مسلمانانو توجه مو و دغې حساسې مسلې ته را اړولې وی، او د دوی په وړاندې مو خپله ایمانې دنده تر سره کړی وی، نو دی مقالې ته ستاسو توجه را اړوم. که مو مقاله ګټوره و ارزوله، دا بیا ستاسو اسلامې مسؤلیت دی، چې یی په پراخه توګه د نورو افغانانو او مسلمانانو سره هم شریکه کړئ.
د اسلام د بنیادې اړخونو خلاصه پدی جدول کی کتلای شئ.

| د مکمل اسلام دوه بنیادې اړخونه | | | |
|---|---|---|---|
| اول - اوامر یا د اسلام عقیدوې اوعبادتې اړخ: | | دویم سپارښتنې یا د اسلام اخلاقې او اجتماعې اړخ: | |
| الف - عقیدوې اړخ: | | الف - اخلاقې اړخ: | |
| ۱ | په لوې او تنها یو خدای (ج) باور | ۱ | رښتیا ویل |
| ۲ | په ملایکو، پیغامبرانو او اسمانې کتابونو باور | ۲ | په وعده وفا |
| ۳ | په حضرت محمد (ص) د وروستې پیغامبرباور | ۳ | خاکسارې او د غرور نشتوالې |
| ۴ | په قران پاک د اخری کتاب باور | ۴ | د نورو احترام |
| ۵ | د قیامت په ورځ، دوباره را ژوندې کیدو او په حساب او کتاب باور لرل | ۵ | د نورو سره مرسته، سله رحمې |
| ۶ | پدی باور چې خیر او شر د الله له خوا دی. | ۶ | د نورو ابرو او عزت ته درناوی |
| ب - عبادتې اړخ: | | ب - اجتماعې اړخ: | |
| ۱ | کلمه طیبه ویل او د زړه نه پری باور | ۱ | دعدالت تآمینول |
| ۲ | لمونځونه کول | ۲ | د ګناهونو نه ځان ساتل |
| ۳ | روژی نیول | ۳ | په نورو شفقت ، زړه سوې او نرم |
| ۴ | ذکات ورکول | ۴ | انصاف |
| ۵ | د حج فریضه اداکول | ۵ | نظافت او د چاپریال پالنه |
| ۶ | | ۶ | اعتدال او سپماوې |
| ۷ | | ۷ | د اعتماد او باور ساتنه |

اوس که دغه پورته جدول ته دقیق شو، نو هغه داسی خلاصه کولای شو:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## اول: اوامر یا د اسلام عقیدوي او عبادتي اړخ:

دا د اسلام هغه اړخ دی چې پکې د مسلمان او خدای پاک تر منځ اړیکي تآمینیږی، او د دی برخي منل او نه منل ټول د خداي (ج) او هماغه شخص پوری اړه لری، او د هغي عفوه او بخشش هم خدای پاک کوي او کولای شی.

الف ـ عقیدوي برخه: دا هغه آسانه برخه ده چې کوم دوامدار مشقت او تکلیف یا تکرارولو ته ضرورت نه لري، چې یو ځل چا د زړه نه دا ژمني وکړي، بسیا کوی. نو پدی برخه کی هیڅ نوعه تکلیف په انسان نشته. او همدا کفایت کوي چې یو څوک مسلمان شي، خو دی ته پوره مسلمان نشو ویلای.

ب ـ عبادتي اړخ: پدی برخه کي مسلمانان د یو څه فزیکي او مالي تکلیفونو سره مخ کیږي. خو که دغو اوامرو ته زیر شو، دا په تدریج سره سختیږي، او د سختیدو سره یی ګټي هم لا پراخه کیږي. د خدای پاک د دی اوامرو ګټي هم تدریجاً د یوه کس نه ټولني او نورو انسانانو (نه یوازي دا چې د مسلمانانو په ګټه) په ګټه پراخیږي. مثلاً کلمه طیبه ویل او منل په ژوند کی یو ځل اوتر ټولو آسان کار دی، او فایده یی هم یواځی هغه شخص ته ده. تر هغي پس د لمونځ اداکول، هره ورځ څو ځلي بیا لږ زیات فزیکي تکلیف ته ضرورت لری، چې ګټي یی هم دغه شخص هم د هغه کورني ته رسیدای شی. تر هغه وروسته بیا روژه د خپل نفس سره مجادله ده، چېن=تکلیف یی هم یو څه زیات دی، ولي موړده یی محدوده(یوه میاشت) او ګټي یی بیا لا پسی زیاتی او پراخیږی. د هغي نه پس ذکات دی چې د هغي کټي نږدی شاوخوا خلکو خاصتاً بی وزلو ته هم رسیږي. د دی کبله چې دا یو مالي قرباني ده نو د اسانتیا لپاره په کال کي یو ځل او هغه هم په شتمنو لازمي شوی دی. بلاخره حج دی چې د هغي ګټه نورو هیوادونو او د نړی مسلمانانو ته متوجه ده، نو په ټول عمر کی یو ځل او هغه هم په لا زیاتو شتمنو خلکو فرض شوی دی.

## دویم ـ سپارښتني یا د اسلام اخلاقي او اجتماعي اړخ:

د اسلام د مقدس دین دغه برخه په ټولنه کي د نورو سره په ګډه، په سوله او ښه توګه ژوند کولو او نورو ته په ګټه او خیر رسولو ته وقف شوي دي. دا د اسلام هماغه مهمه برخه او تر ډیره حده د نظر نه غورزول شوی برخه ده. د دی برخي ګټي زیاتي دی، او په انسانانو کي د شخصي غوښتنو او خواهشاتو د کنترول، د زیرمو او طبعي او مصنوعي موادو او توکو د سپما، د صحت د ښه کولو، یو بل سره په سوله او امن کي د ژوند کولو، په تجارت او دنیاوي معاملو کي په صداقت، عدالت او ریښتینولي ولاړ دي. دا د اسلام هغه برتره برخه ده چې متآسفانه زمونږ علما یا پری پوهیږی نه او یا پری نور نشي پوهولای. پدی اړوند ما د اسلام په اړه پنځوس خطبي په ښنه کړي دي چې د هغو ورکول به ډیر د مسلمانانو د ذهنیت د روښانه کولو اوپدی اجتماعي برخو کي د مسلمانانو د کړو وړو په ښه کولو کڅ ژور تاثیر لری. دا کار به په غیر مسلمانانو او حتا د اسلام د دښمنانو په پوهاوي کي پوره مرسته وکړي. که مونږ مسلمانان د اسلام په دغه اړخ یو څه زیات او روښانه کار وکړو، زه تاسو ته په یقین دا ویلای شم، چې ډیر ژر به نه یوازی دا چې د اسلام په وړاندی نفرتونه او کینې را کمې شی، بلکه د نړی ډیر اسلام دښمنه اشخاص به د اسلام مبارک دین ته پناه راوړی. د مثال په ډول، مونږ او تاسو مسلمانان ټول پدی پوهیږو چې افراطیت په اسلام کي ځای نه لری، او دا افراطیون نه مسلمانان دی، او نه هم انسانان. خو همدا افراطیون بیا د اسلام دښمنانوو را زیږولي چې د دوي د اهدافو لپاره زمینې برابري کړي. ولې مونږ ساده مسلمانان لا تر اوسه هم پدی نه یو توانیدلي چې دغه ناولي بړستن له ځانه و غورځوو او بیرته یی هغه چا ته ور ګذاره کړو چا چې د خپلو اهدافو لپاره منځ ته راوړي او زمونږ په اوږو یی را اچولې ده. چې پدی برخه کی بیا د یو شمیر اسلامي هیوادونو لکه سعودی عربستان، پاکستان او ایران نقش هماغه شیطاني نقش دی، چې د دوي په مټو یی د اسلام دښمنان دغه فجایع تر سره کوي. د اسلام دا برخه هم دوه برخي لري:

الف - اخلاقي برخه: دا هغه برحه ده چې په کولو سره یی شخص ته او نورو ته ګټه رسیږی، او د ترسره کوونکي د ښه شهرت، د باور او د احترام وړتیا پیدا کوی. پدی برخه کی مسلمانان د ټولو هغو کړو وړو او سلوکونو ته هڅول شوي چې د نورو په ګټه دي. لکه، پاکوالي، په وعده وفا، ریښتیا ویل، نرم او ښه سلوک، ترحم او نور. دبلې خوا مسلمانان د ټولو هغو کړو وړو نه منعه شوي چې هغه د شخص او ټولني په ضرر دي لکه ظلم، قتل، غصبو حرام خوړل او نور.

ب - اجتماعي اړخونه: پدی برخه کی خدای پاک مسلمانانو ته امر او نهي کوي، چې څه باید وکړي او څه باید و نه کړی. د دی برخي درست او صحیح عملي کول، نه داچې د هغه شخص په ګټه، بلکه د هغه د کورنی، د خپلوانو، دوستانو، همسایه ګانو، وطنوالو، او حتا د نورو ټولو انسانانو په ګټه دي. دا احکام هم اوامر او منهیات لری، چې اوامر یی د ښو کارونو سر ته رسول او منهیات یی ټول هغو کړونو ته متوجه دي چې و دغه شخص، د ده کورنې،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ټولنې، مملکت، او نړیوالو او نړۍ ته ضرر رسوي. مثلاً د اوامرو نمونې یې صداقت، عدالت، انصاف، وفادارۍ، اعتماد، او باور ساتنه، د طبعي او مصنوعي منابعو سمه ساتنه او سپما او داسې نور دي. او د منعه شوو د جملې نه یې قتل، غلا، رشوت، خیانت، مخدرات او مسکراتو استعمالول، مظلوم زورونه، بد مصرفي، او نور شامل دي.
نو اوس که مونږ دغو اسلامي احکامو او ارزښتونو ته متؤجه شو، نو متأسفانه زمونږ د اسلامي مبلیغینو زیاته توجه او پافشاری او د نورو مسلمانانو ورځنې کړنې یوائې په عقیدوی اړخ څرخې، اما اخلاقي او اجتماعي اړخ ته مو ډیره کمه توجه کړی ده. دا همدغه نیګړتیا ده چې زمونږ د ذلیل توب، غربت، وروسته والي، او د اسلام د مبارک دین د غلط وریپژندنې سبب شوي دی. د اولي برخې ګټې چې مونږ ته متوجه دي د هغې زیاته پاملرنه کوو، پداسې حال کی چې هغه ګناهونه خدای پاک عفوه کولای هم شی. خو په دویمه برخه کی نیګړتیاوې بیا هغه څه دي چې د نورو انسانانو حقوق تشکیلوي، او خدای پاک هم د هغې د عفوي کولو په اړه مونږ ته په کلکه ویلي دی چې تر دی ځانونه وساتو. مونږ د لمانځه لپاره جماعت ته ځو، خو په هماغه لمانځه کی هم د نورو د غولو به فکر کی یو. همدا چې د جومات نه راووځو نو بیا د خپلو خلکو په چور او تالان لاس پوری کړو. دراوغ وایو، غلا او دوکې کوو، رحم او عاطفه نه لرو، او سلونو داسې کارونه کوو چې هغه د یوه مسلمان لا څه چې د یوه انسان سره هم نه ښایي. نو زما سپارښتنه به دا وي چې راځئ مونږ هر یو شعوری مسلمان شو، او د هر هاغه کار نه چې په اجتماعي برخه کی د اسلام او انسانیت په ضرر وی، ډډه وکړو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ